# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



داکترمیر عبدالرحیم عزیز


۱۲ جون ۲۰۱۳

# «یک "بلی" و صد آسان»

## حامد کرزی گفت: وطن ما در اشغال است، من در رأس یک حکومت مزدور هستم

حین گشت و گذار در سایت ها، به یک مضمون در سایت دعوت برخوردم که نویسنده از اعترافات حامد کرزی از به اشغال بودن افغانستان و مزدور بودنش یاد آور شده است. این مضمون توسط آقای توریالی هیوادوال در زبان پشتو تحریر گردیده و در اختیار هم میهنان گذاشته شده است. کرزی مشکل دماغی یک تعداد حامیان بی مغز خود را کاملاً مرفوع نموده و به صراحت اظهار داشته که موقف حقوقی بین الدولی افغانستان چه است و خودش چه نوع هویت دارد. عذاب وجدان بالاخره او را وادار ساخته است که لب به سخن بگشاید و به ضد ملی بودن خود اعتراف نماید. ببرک کارمل در اواخر عمر هم قولهٔ ندامت می کشید. حامد کرزی در رشتهٔ علوم سیاسی در هند تحصیل نموده و کم و بیش با پرنسیب های حقوق بین الدول آشنائی دارد و می تواند بین یک کشور آزاد و اشغال شده فرق بگذارد. آیا کرزی فلسفی صحبت کرده یا عامی، این را باید از شخص وی سؤال کرد. اظهارات کرزی ضربهٔ محکمی بر فرق کسانی است که افغانستان را اشغال ناشده و حامد کرزی را شریف و ملی می پندارند. غرض رفع هر گونه سوء تفاهم، مضمون آقای توریالی هیوادوال را بدون کم و کاست و یا تصرف دراین جا اقتباس نموده و در معرض دید هم میهنان قرار می دهم. اگر کدام ساده لوحی خواستار مناقشه به ارتباط گفتار و محتویات مضمون باشد، لطفاً با نویسندهٔ مضمون در سایت دعوت به مباحثه بپردازد. هموطنان توجه فرمائید:

**( دا زما وطن اشغال دی، زه د یو مزدور حکومت په راس کې یم ) کرزی.**

**توریالی هیوادوال**

Saturday, 08.06.2013

http://www.dawatfreemedia.org/index.php?mod=article&cat=روانیچاری&article=11771

( ووو کوربان مو سم، کوم شعار؟ کوم تروریزم؟ خو دغه کرزي ساب ما ته په خپله مبارکه خوله وویل، زه ور سره ناست وم، ویل زه ځلور نیم کاله مخکي پوه سوم چي دا دتروریزم جنګ نه دی، ده په خپله شخصا ما ته دا خبره کړې ده، بل چا پسي هیڅ مه ځئ، زه و دی دوه په دوه، یو دغه د کندهار وکیل لالي ماما راسره ناست و، یو دوه سپین

ژیري وو، ما ته یې ویل زه څلور، څلور نیم کاله مخکې پوه سوم چې دا د تروریزم جنګ نه دی، ما ورتو ویل نو څه آل دی؟ ده ویل: دا زما وطن اشغال دی، زه د یو مزدور حکومت په راس کې یم!

د میز چلوونکی: دا خپله ولسمشر؟

عبد الجبار: ( دا شخصا په خپله دده په خوله یې ما ته ویلي، هیڅ ضرورت نسته چې تایي په بل چا پسې ولاړ سئ )
http://www.youtube.com/watch?v=bDS0cdswVSg

د تېرې چهار شنبې په ورځ چې د ۲۰۱۳ / ۵ / ۵ سره سمون خوري، د طلوع تلویزیون په تودې خبرې پرواګرام کې چې د شپې له خوا خپرېږي ژورنالیست محمد آصف وردګ، د ولسي جرګې غړی عبد الجبار کرمان او دحق او عدالت ګوند د رهبری شورا غړی حمید الله فاروقي میلمانه وو، د خبرو په ترڅ کې د میز چلوونکي له عبد الجبار نه پوښتنه وکړه چې ناټو ویلي چې مونږ د افغانستان له جغرافیې بهر په تروریزم پسې نه ور ځو، نو آیا دا ددوی له هغه لومړنې شعار سره په ټکر کې نه دی؟ ددې پوښتنې په ځواب کې عبد الجبار پورتنی بیان ورته وکړ!

ما چې دا خبرې واورېدې، هغه د چا خبره اړونه مې زړه شول! ځکه دا کېدی نشي چې عبد الجبار دې دومره ډاګیز درواغ ویلي وي، هغه ټولې نړی ته په لوړ آواز دا خبره د یو چیلنج په ډول وکړه، او ویې ویل چې زه دا دې دلته شته یم، که د چا څه شک وي را دې شي و ماته چې زه یې ورته ثابته کړم.

ما تر اوسه داسې فکر کولو چې کرزی او ملګري به یې په رښتیا هم نه پوهېږي او په دې به باور نه لري چې اشغالګرو زمونږ هېواد اشغال کړی، ځکه خو تر یو ځایه معذور راته ښکارېدو، خو چې دا کیسه مې واورېده، نو د قرآن کریم هغه آیت شریف مې سترګو ته ودرېد چې د موسي علیه السلام په وړاندې د فرعون او فرعونیانو په اړه وایي: (وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ (١٤)

فرعونیانو هغه نهه نښې او دلایل چې موسی علیه السلام دالله جل جلاله له لوري ورته راوړې وې درواغ و ګڼلې، په داسې حال کې چې زړونو یې ریښتینې بللې، او دا درواغ ګڼل د ظلم او کبر له وجې، یعني دوی ظالمان او کبرجن وو ځکه یې د زړه خبره په خوله نه کوله، نو ته ګوره چې د مفسدینو پای څنګه شو؟

کله چې دوی حق ته غاړه کېنښوده، زړونو یې حق پېژندلو، مګر خولو یې نه منلو، او دا ځکه چې دوی ظالمان او کبرجن وو، نو همغه وو چې مونږ هم داسې تباه کړل چې د ټولو لپاره به تر قیامته پند وي، په دنیا خو مو په اوبو کې غرق کړل، او په آخرت کې مو هم سخت عذاب ورته تیار کړی.

ښه کرزیه ! ته چې په دې پوهېږې چې حق له ولس سره دی، حق له مجاهدینو سره دی، بهرنیان نیواکګر دی، هېواد یې اشغال کړی، په زور راغلي، واک ټول ددوی دی، ته واک نه لرې، کوم حکومت چې ته یې په راس کې یې یو مزدور حکومت دی، خپلواکي نه لري، د هېواد او ولس ګټې نشي ژغورلی، په زړه دې دا ټول منلي دي، او په ځینو ځانګړو ناستو کې یې ځینو ځینو خلکو ته وایې هم، لکه عبد الجبار ته دې چې و یلي، نو بیا یې خلکو او ولس ته ولې په ډاګه نه وایې؟ او کله چې عبد الجبار پوښتنه درنه کړې چې هر کله حقیقت داسې دی نو بیا ولې حقیقت نه وایې، ولې خبره له خلکو سره نه شریکوې؟ تا لنډه ورته خلاصه کړې: ( چې زه ځان نسم په دغه کې اچولی، دا په اصطلاح باندې لویه کورباني غواړي؟ )

څه فکر کوې کرزیه! چې لویه قرباني به نو څه وي؟ تر ټولو لویه قرباني د سر قربانول دي، تر دې را ښکته د چوکۍ او مال قربانول دي، ته چې په دې باوري یې چې وطن دې اشغال دی، او ته د یو مزدور حکومت په راس کې یې، نو بیا څنګه نشې کولی چې له خپل وطن او د وطن له خپلواکۍ نه ځان قربان کړې؟! هر کله چې کیسه داسې ده نو په دې به هم خامخا پوهېږې چې ولس ولې دا یوولس کاله ستا داشغالګرو په وړاندې قرباني ورکوي؟ ځکه چې ولس لویې قربانۍ ور کولی شي!

ګوره! د خپلواکۍ لپاره هره قرباني ور کول وړه قرباني ده، خو دا د هغه چا لپاره چي هغوی د خپلواکۍ په خوند او قدر پوهېږي، ته هره ورځ ګورې چي څومره ځوانان د خپلواکۍ د ترلاسه کولو لپاره په ځان پورې بمونه تړي، پر دښمن وردانګي هم ځان قربانوي او هم دښمن ریزمریز کړي! د خپلواکۍ په لاره کي د سر قربانول یوازې تر مسلمانانو پورې تړاو نه لري، بلکي د نړۍ په هره انساني ټولنه کي معمول دی، بلکي حیوانات هم د خپلواکۍ لپاره ځان قربانوي، هر قوم د خپلي خپلواکۍ د ترلاسه کولو لپاره سر قربانول د ځان او قوم لپاره وياړ ګڼي، له همدي کبله د تاريخ په اوږدو کي دخپلواکۍ ډېري پراخي او اوږدې جګړې شوې دي.

ته پوهېږې چي ولي نشي کولی د خپل هېواد او ولس د آزادۍ لپاره ځان قربان کړې؟ دلته څو خبرې دي، يا خو ته افغان نه يې، ځکه خو بيا معقوله هم نه ده چي ته د بل هېواد او بل ولس لپاره خپل ځان قربان کړې، او يا دا چي هسې تش په نامه افغان يې، پښتو دې د مور په شيدو کي نه، بلکي په کوم بهرني ښوونځي کي زده کړې ده، او يا دا چي وجدان دې مړ دی، ضمير دې د خپلواکۍ خوند نه دی څکلی، له ماشومتوبه په غلامۍ کي را لوی شوی يې، ځکه د خپلواکۍ په قدر او خوند نه پوهېږې، په دې خو ټوله نړۍ يوه خوله ده چي هر څوک له خپلي خپلواکۍ نه ځان قربانوي نو په تا بيا څه شوي!؟ په دې خو به پوهېږې چي پېغلي ملالي د خپل هېواد او ولس د آزادۍ لپاره د جګړې ډګر ته ور دانګلي!!

څه دا به په يو ډول در سره ومنو چي ته نشي کولی د خپلواکۍ لپاره لويه قرباني ور کړې، ځان قربان کړې او يا مال قربان کړې، او يا چوکۍ قربان کړې، نو دا بيا کوم وجدان دی چي تا ته اجازه در کوې چي هغه څوک چي د خپلواکۍ په لاره کي ځان قربانوي، خپل هېواد او ولس آزادوي تر پرديو پورې وتړې؟

دا خو ته په خپله خوله وايې چي وطن مي اشغال شوی، نو چي وطن دې اشغال شوی څه رنګه هغه څوک پرديو ته منسوبوې چي وطن له اشغال څخه آزادوي؟ آيا دا يو لوی او نه بخښونکی ملي او تاريخي خيانت نه دي؟ يو ملي او تاريخي خيانت خو دا چي پوهېږې چي هېواد اشغال شوی او بيا پټه خوله پاتي کېږي، تر دې لوی ملي او تاريخي خيانت بيا دا چي هغه څوک چي د اشغال په وړاندې يې توره پورته کړې، د خپلواکۍ د ترلاسه کولو لپاره ځان قربانوي هغوی تر پرديو پورې تړې؟

دا چي ته مجاهدين تر پرديو پورې تړې، په حقيقت کي له خپل ولس او هېواد سره آګاهانه نه بښونکی ملي خيانت کوې، وطن او کور دمور حيثيت لري، ته چي په دې پوهېږې چي وطن او کور دې اشغال شوی او بيا پټه خوله پاتي کېږې، نه يوازې دا چي پټه خوله پاتي کېږې بلکي له اشغالګرو سره دجوال خوله نيسې، د خپل ولس د آزادۍ او خپلواکۍ مستي څپې پرديو ته منسوبوې څه فکر کوې چي څه بايد درته ووېل شي؟ ته چي په خپل کور ننګ نشي کولی نو په هغه چا به يې څه رنګه وکړې چي په کور کي اوسي؟ په دې معنی چي تا هر څه پلورلي دي، د هېڅ پروا نه لرې!! په کور کي دې پردي ګرځي، د کور واک يې درنه اخيستی او ته ورته ګورې، بلکي د خپل کور په بې پټه کولو کي مرسته ور سره کوې! دا ټول ددې لپاره چي مړ نه شي؟

ګوريه کرزيه! مرګ خو حق دی، يوه ورځ نه يوه ورځ به خامخا مړ کېږې، که ډېر نور ژوندی وې نو لس کاله، يا شل کاله، آخر به مرې، او دا فاني دنيا خو پيدا د مرګ لپاره ده، ټول به مره کېږي، هېڅوک نه پاتي کېږي، د ذلت له ژوند نه ګوره د عزت مرګ زر ځله ښه دی، راشه په دې آخر کي يو غيرت وکړه، دا چي په ځانګړو ناستو کي خلکو ته وايې چي وطن مي اشغال شوی او زه مزدور يم ښه به دا وي چي په نره سره حق او حقيقت په علني توګه په خپله ولس ته وړاندې کړې، بيا يې که مړ کړې هم نو آرمان به دې نه وي، هم به دې په دنيا کي نيکنامي وي او هم به دې آخرت جوړ شي، خو دا کار د يو مسلمان په حيث وکړه تر څو د شهيدانو په کتار کي حساب شي.